NHS

# د NHS لپاره ستاسې معلومات اهمیت (Your Data Matters) لري

ستاسې د روغتیا او پالنې په اړه معلومات له موږ سره مرسته کوي تر څو ستاسې په انفرادي پالنه کې ښه والی رامنځته کړو، تشخیص مو چټکتیا ومومي، سیمه ایز خدمات پلان او نوې درملنې درته وپلټو.

د **2018** کال د مۍ په میاشت کې، د دغو معلوماتو د کارونې او نه کارونې په اړه سخت قوانین لا پسې ټینګ شول. **NHS** د ناروغانو د معلوماتو خوندي ساتلو ته ژمن دی او تل د دغو معلوماتو د کارولو په اړه پوره وضاحت لري.

تاسې حق لرئ وواياست چې ایا غواړئ خپل د ناروغ محرم معلومات مو د څېړنو او پلان جوړولو لپاره وکارول شي او که نه.

په دې اړه د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره دې سایټ ته ورشئ:
**nhs.uk/your-nhs-data-matters**

د خپلو معلوماتو د حقونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ په دې سایټ ico.org.uk کې د تاسې معلومات اهمیت (Your Data Matters) دي کمپاین ته ورشئ.

YOUR DATA MATTERS

ico.
Information Commissioner's Office

## تاسي حق لرئ وواياست چې ايا غواړئ خپل د ناروغ محرم معلومات مو د څېړنو او پلان جوړولو لپاره وکارول شي او که نه.

### ستاسي معلومات څرنګه کارول کيږي

ستاسي د روغتيا او پالنې معلومات ستاسي د فردي پالنې د ښه والي په موخه کارول کيږي. همداشان دا معلومات د دې لپاره کارول کيږي تر څو له موږ سره د نويو درملنو په څېړنه کې مرسته وکړي، چيرته د عامه ناروغيو د کلينيکونو د جوړولو په اړه تصميم ونيول شي او ستاسې په سيمه ايز روغتون کې د ډاکترانو او نرسانو د شمېر لپاره پلان جوړ شي. که چيرته موږ وغواړو چې ستاسي معلومات وکاروو، نو په دې سره تاسي نه پيژندل کيږئ، خو ځيني وختونه اړينه ده تر څو ستاسې د ناروغ محرم معلومات وکاروو.

### د ناروغ محرم معلومات څه شی دي؟

د ناروغ محرم معلومات ستاسي پيژندګلوي ښيي او د تاسي د روغتيا، پالنې او درملنې په اړه موږ ته معلومات راکوي. تاسي کولای شئ ووايئ چې دا معلومات مو خصوصي وساتو. خو يوازې هغه معلومات چې له کبله يې تاسې پرې پيژندل کيږئ، لکه ستاسي نوم او پته، هغه د ناروغ د محرمو معلوماتو په توګه نه ګڼل کيږي او هغه کارول کيدای شي: د بېلګې په توګه، که چيرته ستاسي د عامه ناروغيو تمرينونه له نورو سره مدغم کيږي، نو له تاسي سره به اړيکه نيوله کيږي.

### د څېړنې او پلان جوړونې په موخه به څوک ستاسي د ناروغ محرم معلومات کاروي؟

دا معلومات د NHS، سيمه ايزو چاروالکو، د پوهنتون او روغتون د څېړونکو، طبي پوهنتونونو او د درمل جوړولو د شرکتونو له خوا د نويو درملنو د څېړنې په موخه کارول کيږي.

### د خپلو معلوماتو په اړه د انتخاب اختيار

تاسي کولای شئ خپل محرم د ناروغ معلومات د څېړنو او پلان جوړونې په موخه په اختياري بڼه سره انتخاب کړئ. شايد همدا اوس هم ستاسي د ناروغ محرم معلومات کارول کيږي: د بېلګې په توګه، د يوې ساري ناروغی په مهال چيرې چې ښايي تاسي او يا هم د نورو خلکو روغتيا ته خطر وي. همداشان تاسې بيا هم کولای شئ په يوې مشخصې څېړنيزې پروژې کې برخه واخلئ.

### ايا د دې انتخاب به ستاسې پر پالنې او درملنې باندې اغيزه ولري؟

نه، ستاسي د ناروغ محرم معلومات به يوازې ستاسي د فردي پالنې لپاره کارول کيږي. د دې غوراوي انتخاب به ستاسي پر پالنې او درملنې باندې هيڅ اغيزه و نه لري. تاسي به بيا هم د ازمايښتي خدماتو لپاره راوغوښتل شئ، لکه د کولمې د سرطان د ازمايښاتو لپاره.

### له دې وروسته بايد تاسې څه وکړئ؟

که چيرته تاسې د خپل ناروغ د محرم معلوماتو د کارولو په اړه خوشاله ياست نو بيا تاسي اړتيا نه لرئ چې په نورو کارونو باندې لاس پورې کړئ.

خو که چيرته تاسي نه غواړئ چې خپل د ناروغ محرم معلومات د څېړنې او پلان جوړونې لپاره وکارول شي، نو بيا تاسي کولای شئ چې په خوندي توګه په انلاين يا هم د تليفون له لارې خپله انتخاب وکړئ.

**تاسي کولای شئ هر وخت چې مو زړه وغواړي خپل انتخاب کې بدلون راولئ.**

د لا زياتو معلوماتو لپاره او يا هم د خپل انتخاب په خاطر دې سايټ ته **nhs.uk/your-nhs-data-matters** ورشئ

**او يا هم په دې شمېره زنګ ووهئ: 0300 303 5678**